**بسم الله الرحمن الرحیم**

## کشمیر: ۱۵۰ کلن ظلم او وحشت

د هند ولسمشر رام نات کویند د ۲۰۱۹ کال د اګېسټ پر ۵ مه د کشمیر مسلمانان له یو بل ټکان سره مخ کړل. د ولسمشرۍ فرمان په دوو برخو کې رسوا شو: لومړی دا چې د اساسي قانون ۳۷۰ ماده سربېره پر دې چې حذ ف شوې نه ده، پلې کېدای نشي. د فرمان دویمه برخه د جمو او کشمیر (J&K) د ۲۰۱۹م کال د بېرته تنظیم د قانوني لایحې منل دي، چې له مخې یې جمو او کشمیر(J&K) له یو متحد ایالت څخه د فدرالي حکومت تر ول کې لاندې پر دوو سیمه ییزو ټوټو ویشل کېږي. د ولسمشرۍ د فرمان له صادرېدو څخه مخکې وسله وال ځواکو نه چمتو وو؛ د کشمیر ډېری سیاسي مشران په کورونو کې نظر بند وو، هر ډول مخابراتي شبکې پرې وې او د خ لکو پر ګرځېدو محدودیتونه لګېدلي وو. لنډه دا چې له کشمیر څخه یو پرانیستی زندان جوړ شوی و. دا نقشه د هند د کورنیو چارو اوسني وزیر او د دغه هېواد د ملتپال ګوند (BJP) مشر امیت شاه ترسیم کړې وه. د هند د اسا سي قانون ۳۷۰مې مادې ٦٥ کاله وړاندې د هند د خپلواکۍ راهیسې یعنې په ۱۹۴۷م کال جمو او کشمیر ته ځانګړي امتیازات ورکړي وو، چې د هند د ملتپال ګوند (BJP) له ټاکنیزو شعارونو څخه یو هم د یادې مادې لغوه کول و.

د کشمیر مساحت ۲۱۷۹۳۵ کیلو متره مربع دی، چې له پاکستان، هند، چین او افغانستان سره ګډې پولې لر ي. کشمیر یوه اسلامي خاوره ده، چې د لومړۍ هجري پېړۍ په پای کې مسلمانانو فتحه کړه. وروسته بیا مسلما ن جنرال محمد بن قاسم د سند او هند سیمې د ۹۴ هـ.ق (۷۱۲ م) کال په پیل کې فتحه کړې. اسلام د اسیا په لویه وچه کې د عباسي خلیفه المعتصم د خلافت پر مهال یعنې ۲۱۸-۲۲۵ هـ.ق (۸۳۹-۸۳۳ م) کلونو کې خپور شو. په ټوله کې اسلام د اسیا لویه وچه کې چې اوسمهال د هند، پاکستان، کشمیر او بنګله دېش په نومو نو یادېږي، د لسو پېړیو په موده کې عباسي خلیفه ګانو یو پر بل پسې خپور کړ. د جمو او کشمیر ٦٧ سلنه اوس ېدونکي مسلمانان دي، په داسې حال کې چې یوازې د کشمیر په دره کې بیا د مسلمانانو شمېر له ۹۵سلنې څ خه اوړي.

د اسیا په لویه وچه کې د بریتانیې ښکېلاک د ۱۸م پېړۍ په وروستیو کې پیل شو. دوی لومړی د بریتانوي سود اګرو او بیا وروسته د ځینو مسلمانانو، هندوانو، سیکانو، بودایانو او نورو یاغیانو په ملاتړ واک ترلاسه کړ او خپل ښ کېلاک ته یې دوام ورکړ. بریتانوی شهزاده په ۱۸۵۸م کال کې تر څلورو لسیزو جګړو وروسته پر اسیا لویه وچه په بشپړ ډول واکمن شو. بریتانیې به ځینې وخت د اسیا لویې وچې هغه سیمې چې ۵۵ سلنه مسلمانان پکې مې شت وو، په مستقیم ډول اداره کولې او ځینې وخت به یې د ٥٦٥ داخلي والیانو لخوا اداره کولې. دوی د کشمی ر خپلواکه سیمه، چې ډېری اوسېدونکي یې مسلمانان وو، یوه هندو شهزاده ته یې تر ۱۰۰ کلونو پورې اجاره ور

کړه. په کشمیر کې وحشت له همغه وخت څخه پیل شو، چې کابو ۱۵ لسیزې یې دوام وکړ. د دغو وحشتونو په پایله کې د هغې سیمې مسلمانان له بوړنوونکو پېښو سره مخ شول او دا ټولې قربانۍ یوازې د دې لپاره وې، چ ې واک او ځواک یوازې په کشمیر کې متمرکز پاتې شي. د کشمیر خلک په دې مشهور وو، چې د یادو وحشتونو پر وړاندې یې کلک هوډ درلود. د کشمیر ۲۲ تنه مسلمانان د ۱۹۳۱م کال د جولای پر ۱۳مه په یوه کمسارۍ پېښه کې یو پر بل پسې شهیدان شول، څو د ماسپښین اذان بشپړ کړي. د دوی دغه کار د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د موته غزا په څېر و. دا لاریون هغه مهال پیل شو، چې په کشمیر کې یوه امنیتي افسر قران کریم ته سپکاوی کړی و.

پر بریتانوي حاکمیت سربېره بیا هم د اسیا لویې وچې مسلمانانو عثماني خلافت ته، چې هغه مهال په استانبول کې و، غاړه اېښوده. د ازادۍ خوځښت له شک پرته د ګڼ شمېر مسلمانانو استازیتوب کاوه. کله چې بریتانیې د اسیا له لویې وچې څخه د وتلو تکل وکړ، نو په دغه سیمه کې یې د هند او پاکستان په نامه دوه هېوادونه رامنځ ته کړل. د ۱۹۴۶م کال د مې پر ۱۲مه په یوه رسمي سند کې راغلي، چې بریتانیې خپلو ۵٦۵ داخلي والیانو ته امر وکړ، څو خلکو ته له هند او پاکستان سره د یو خای کېدو اجازه ورکړي. په دغه دستور کې د حیدراباد، جو نګړې او کشمیر درې سیمې نه وې داخلې. د حیدراباد او جونګړې ډېری اوسېدونکي هندوان، خو والیان یې م سلمانان وو، نو ځکه له هند سره وتړل شوې. په کشمیر کې بیا برعکس، چې ډېری اوسېدونکي یې مسلمانان او والي یې مسلمان و، خو هغه سیمه هم له هند سره وتړل شوه. په ۱۹۴۷م کال کې خلکو پاڅون وکړ، چې په پای له کې یې کشمیر ته کورواکي ورکړل شوه او وروسته د هند د اساسي قانون د ۳۷۰ مې مادې له مخې یاده کورو اکي په رسمیت وپېژندل شوه.

له همدې امله یاده کړنه د ۱۹۴۷م کال راهیسې د هند او پاکستان ترمنځ د جګړو او نښتو لامل شوه. د کشمیر ٦۵ سلنه خاوره د هند په لاس کې ده، چې پاتې ۳۰ سلنه او ۵ سلنه یې په ترتیب سره د پاکستان او چین په لا س کې ده.

ملګري ملتونه د ۱۹۴۸م کال د اګېسټ پر ۱۳مه په دې مسله کې ښکېل شول، نو پر همدې مهال د ملګرو مل تونو امنیت شورا په کشمیر کې د اوربند او نړیوالو څارونکو ځواکونو د میشتېدو پرېکړه وکړه. وروسته یادې شورا یوه بله پرېکړه هم وکړه، چې له مخې به یې هند او پاکستان خپل ځواکونه وباسي، څو د کشمیر خلک د یوې ټو لپوښتنې له لارې خپله راتلونکې وټاکي. د ۱۹۵۷م کال د فبرورۍ پر ۱۴مه د ملګرو ملتونو امنیت شورا یوه بله پرېکړه وکړه، چې له مخې به یې په کشمیر کې ټولپوښتنه کېږي. له دې مخکې په ۱۹۵٦م کال کې د هند لوم ړي وزیر جواهر لعل نهرو په کشمیر کې د هند واک ټینګ کړ او د هند د اساسي قانون ۳۷۰ ماده یې تصویب کړه، څو په دې سره کشمیر د هند کورواکه ایالت اعلان کړي. د دغې مادې له مخې جمو او کشمیر دا حق در

لود، چې د هند د مرکزي پارلمان تصویب کړی قانون په خپله خوښه پلی کړي، نه په جبر او زور سره. د ۳۷۰ م ې مادې په یوه بله فقره کې راځي، چې د هند ولسمشر د جمو او کشمیر د ایالتي حکومت د دریځ خلاف فدرا لي قوانین پلي کولی شي. د ۲۰۱۹م کال په اګېسټ میاشت کې ولسمشریز فرمان له دغې فقرې څخه په ګټه اخیستنې سره ټول فدرالي قوانین پلي کړل؛ په داسې حال کې چې د جمو او کشمیر ایالتي حکومت لا له مخ کې منحل شوی و او چارې به یې د ولسمشر تر دستور لاندې والي سمبالولې. هند له ۱۹۵۷م کال راهیسې د کشمیر د ټولپوښتنې مخنیوی کوي، ځکه چې له پایلې څخه یې وېرېږي. له ۱۹۵٦ کال راهیسې به ځینې د شخړې اصلي سرچینه د یادې فقرې پلي کول و. یاده فقره په کشمیر کې په پرله پسې توګه د لاریونونو او وسله والو پاڅونو لامل شوې ده. په کشمیر کې ډېری مسلمانان له پاکستان سره د یوځای کېدو یا یو خپلواک دولت غوښتوونکي دي. کابو تر ۵ سلنه لږ خلک له هند سره د یوځای کېدو هیله لري. له همدې امله د ۱۹۵۸م کال له پیل راهیسې دغه ناحله مسله د ګڼو خلکو د وژلو، شتمنیو او عزت لوټلو او بې ځایه کېدو لامل ګرځېدلې، چ ې دا ټولې کړنې د کشمیر د مسلمانانو د ارادې خلاف دي.

پاکستان سره له دې چې د کشمیر د مسلمانانو ترڅنګ ولاړ دی، خو په کشمیر کې په امنیت خوندي کولو کې پاتې راغلی. لامل یې دا دی چې پاکستان د خپلې پوځې وړتیا په پرتله امریکایي تګلاره تعقیبوي. د هند او پاک ستان ترمنځ ګڼې نښتې شوې، چې په ترڅ کې پاکستان د کشمیر پر موضوع ځینې امتیازات له لاسه ورکړي. م حمد علی جناح په ۱۹۴۸م کال کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اوربند ومانه؛ ایوب خان په ۱۹٦۵م کال کې درې سیندونه چې د پاکستان برخه وه، هند ته وسپارل او نوازشریف په ۱۹۹۹م کال کې کارګیل هند ته وسپاره . وروستی خیانت د ولسمشر پرویز مشرف و، چې په ۲۰۰۴م کال کې یې د امریکا په اشاره د کشمیر لانجه د پا کستان او هند ترمنځ دوه اړخیزه وبلله او هوکړه یې وکړه چې دواړو هېوادونه به یې حلوي. پاکستان پلوی امریکا یي دریځ او هند پلوی شوروي دریځ په کشمیر کې د ډېرو لاسوهنو لامل ګرځېدلی و. امریکا په کشمیر کې د مقا ومت چاپیریال په خپله ګټه وکاروه او پاکستان ته یې اجازه ورکړه چې په کشمیر کې د مقاومت خوځښتونو ملاتړ وکړي، څو په سیمه کې د شوروي اتحاد تر ماتې وروسته پوځې مانور وکړي.

په کشمیر کې له خپلواکۍ راهیسې له ۱۹۸۸م څخه تر ۱۹۹۹م کال پورې مقاومت په ډېر قوت کې و، چې دې ته د کشمیر پاڅون هم ویل کېږي او پر همدې مهال د ایالتي ناندریزو ټاکنو مسله هم راپورته شوه. هند ګڼ شم ېر امنیتي ځواکونه د پوځ، پوله ساتو ځواکونو او مرکزي احتیاطي ځواکونو په ګډون هلته ځای پر ځای کړ، چې شمېر یې ۷۵۰۰۰۰ تنه و. هند د ۱۹۹۰م کال د سپټمبر په میاشت کې د مقاومت ختمولو په موخه د وسله وال و ځواکونو ځانګړی قانون (AFSPA) پر کشمیر باندې پلی کړ. یاد قانون وسله والو ځواکونو ته اجازه ورکړه، چې د عامه نظم د ساتلو لپاره له قانوني حکم پرته یو څوک وژلی او بندي کولی شي. هندي سرتېري په ګڼو بشري

سرغړونو او د محکمې له امر پرته په ګڼو وژنو، ربړونو، جنسي تېريو او ځورونو کې تورن او مسوول وګڼل شوي. د ا ټکل لمخې تراوسه ۱۰۰۰۰۰ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. کابو همدومره کسان له جرم سره یا پرته له ج رمه نادرکه او یا په زندان کې شپې او ورځې سبا کوي.

د زرګونو کونډو او یتیمانو ترڅنګ د کشمیر له پېغلو او زړو ښځو سره ډېر زړه بوږنوونکي جرمونه شوي. د کشمیر په دره کې له ۲۰۰۴م کال راهیسې د هند ملېشو د مقاومت ګڼ شمېر مشران د مقاومت د له منځه وړلو په موخ ه نادرکه کړي دي. د بشري حقونو کمیسیون د ۲۰۱۱م کال راپور تاییدوي، چې په جمو او کشمیر کې په مرمیو ويشتل شوي زرګونه جسدونه په یوه نامعلوم قبر کې ښخ شوي دي. له ۱۴ ولسوالیو څخه په ۴ ولسوالیو کې د ځ ايي وګړو له ۲۷۳۰ بربنډو جسدونو څخه ۵۷۴ جسدونه په ګوته شوي، سره له دې چې د هند حکومت ټینګار کو ي چې یاد ټول قبرونه په بهرنیانو پورې تړاو لري. د کشمیر مسلمانانو د تېرو ۱۵۰ کلونو راهیسې د بریتانیې، ه ند او امریکا بېلابېل ظلمونه او وحشتونه وزغمل.

د هند د ۲۰۱۹م کال د اګېسټ د ۵مې اعلان، د وحشت یو نوی پړاو دی؛ خو الله سبحانه وتعالی پر هرڅه قادر دی. د هند حکومت د کشمیر د خلکو ستري غوښتنې د ۳۷۰مې مادې پټولو یا حذفولو په پلمه له پامه غورځوي . په دغه حساس پړاو کې د مسلمانانو ته پکار ده، چې د یادو پېښو په تړاو سم دریځ ونیسي.

۱- مسلمانانو ته روا نه ده چې په هغه ځمکه کې د اسلام د پلي کېدو مخه ډب کړي، چې یو وخت داسلام تر وا کمنۍ لاندې وه. دا مفکوره د مسلمان له ویاړ او شرافت څخه سرچینه نه اخلي، بلکې د الله سبحانه و تعالی د قانون او شریعت پلي کولو ته سخته اړتیا ده. پر همدې بنسټ، مسلمان ته روا نه ده، چې دغې موخې ته په رس ېدو کې له خپلو هلو ځلو لاس په سر شي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾**

[المایده:۵۰]

***ژباړه:*** *که دوی د خدای له قانون څخه مخه واړوي، نو ایا بیا د جاهلیت پرېکړه غوړي؟ په داسې حال کې هغه خلک چې پر الله باور لري، د دوی په نزد له الله څخه بل غوره پرېکړه کوونکی هېڅ نشته.*

۲- هندوستان د کشمیر مسله کې دخیل دي، هغه هېواد چې په نړۍ کې د ډیموکراسۍ د ستر ملاتړي دعوه کوي او دا په وار وار جوته شوې چې ډیموکراسي پکې یوازې د هوساینې یوه وسیله ده. بریتانویانو په خپلو ډیمو کراتیکو بنسټونو او موسسو ویاړ کاوه، خو د کشمیر د مسلې په راپورته کېدو سره یې په کشمیر کې په بشپړ ډول خلک بېل کړل. هندوستان په خپلو ډیموکراټیکو بنسټونو او موسسو نازېده، په داسې حال کې چې په کشمیر کې یې په ډېر وحشت سره د خلکو لویې هیلې تر پښو لاندې کړې. دا ښکاره ده، چې هندوستان له ډېر پخوا څ څخه د نړۍ په یوې ټاکلې سیمې کې لوی پوځ لري او نوموړی پوځ جګړه نه کوي، خو له دې څخه هم سترګې

نشي پېښېداى، چې هند د کشمير پر خلکو ظلم او وحشت کوي. د ملګرو ملتونو سازمان د يوې ټاکنيزې تګلارې له مخې د امريکا په چوپړ کې بوخت دی او کله چې د مسلمانانو په سيمو کې ښکېل شي، په ښکاره د جوجاړې لار غوره کوي، خو په اصل کې بله لاره لټوي. نوموړی سازمان به د تل په څېر د ځواک د څښتنانو لخوا د يوې و سېلې په توګه د هغوی ګټې ساتي او واک ته تر رسېدو پورې به پرې پانګونه کوي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُو تِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا﴾**

[النساء:٦٠]

***ژباړه:*** *اې پېغمبره! ايا تاسو هغو خلکو ته نه دي کتلي، چې دعوه کوي: موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی او پر هغو کتابونو چې له تاسو څخه مخکې نازل شوي وو، ايمان راوړی. خو بل خوا بيا غواړي چې خپلې چارې د پرېکړې لپاره طاغوت ته وړاندې کوي. په داسې حال کې چې هغوی ته له طاغوت څخه د منکرېدو حکم شوی و. شيطان غواړي چې هغوی وغولوي او له سمې لارې څخه يې ډېر لرې کړي.*

۳- نړيوالو قدرتونو لکه: امريکا، بريتانيا، روسيې، اروپا او چين د خپلو سيمه ييزو او ملي ګټو د خوندي کولو په م وخه د اسلام تر نامه لاندې د مسلمانانو له لوړو هيلو او احساساتو څخه ګټه اخيستې. د کشمير په رامنځته کېد و کې د بريتانيې رول او په همدغې مسله کې د امريکا رول چې له ملګرو ملتونو څخه يې د وسيلې په توګه کار ا خيستی او يا له دغه سازمان پرته له ۱۹۴۷م کال راهيسې په دغې مسله کې بوخت دی، بيخي ښکاره دی. دغ ه راز نور قدرتونه هم د خپلو دريځونو پر بنسټ د کمشير په مسله کې برخه لري. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُواْ لِلّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّ بِينًا﴾**

[النساء:۱۴۴]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! د مومنانو پر ځای له کافرانو سره ملګرتيا مه کوئ. ايا تاسو غواړئ، چې الله ته د ځان پر خلا ف ښکاره سند ورکړئ؟*

۴- د کشمير او فلسطين د مسلو سرچينه يوه ده. دواړې د بريتانويانو پروژې وې او غوښتل يې چې له مسلمانانو واک واخلي، نو پر همدې اساس يې فلسطين يهودانو او کشمير هنديانو ته ورکړ. له دويمې نړېوالې جګړې ورو سته د نوموړو دواړو پروژو واک امريکا په لاس کې واخيست او د يوې وسيلې په توګه يې ترې د سيمو په اشغال ا و ښکېلاک کې کار واخيست. دواړه په وسلو سمبال نظاميان لري، د لسيزو را په دېخوا له انساني حقونو څخه نا وړه ګټه اخلي او په نړۍ کې تېري او سپکاوي ته دوام ورکوي. دواړه ډېر عمره نسلونه لري او په څرګنده توګه ډ يموکراسۍ ته واقعي رنګ ورکوي. دواړه هڅه کوي چې د اسلامي دولت د واکمنۍ په نشت کې پر اسلامي نړۍ

خپل واک وغځوي. هغه اسلامي دولت چې په ټوله نړۍ کې د خلکو ژوند او ملکیت ساتي او د دغه دولت د سپ ېڅلي دندې په اړه الله سبحانه و تعالی په قران کې فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ قَاتِلُواْ الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلِيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾**

[التوبه:۱۲۳]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! د حق له هغو منکرانو سره و جنګېږئ، چې تاسو ته نږدې دي. هغوی باید په تاسو کې کلکوا لی( زېږوالی) و مومي او پوه شئ چې الله له پرهېزګارانو سره دی.*

**۵-** په کشمير کې مسلمانان داسې دولتي ځواک او زور نه لري، چې په خپله اسلامي شريعت پلی کړي. دا د ا سلامي نړۍ د پوځونو دنده ده، چې کشمير ازاد او امنيت يې ټينګ کړي. د کشمير د خپلواکۍ اصلي او لومړن ۍ دنده د پاکستاني پوځ ده. د خلافت په بېرته راتګ سره به په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو پوځونه ډاډمن شي او پر ځمکه به د الله سبحانه وتعالی د سپر ساتنه او مرسته کوي. خلافت دولت به د حکم (حکومتولۍ) نظ ام پلی کوي، چې له دې لارې به د ټولو وګړو (مسلمانو او نا مسلمانو) ژوند امن کړي. د ژوند او ملکيت ارزښت به خوندي کړي او ديني حقونه به يې وساتي. له قوانينو څخه به په دوامداره توګه دفاع کوي او دا به څرګندوي چې قوانين له نفسي غوښتنو او هوسونو څخه نه، بلکې له يوې ربښتينې سرچينې (قران) څخه راوځي، چې الله سبحانه و تعالی يې امر کړی او پیغمبر صلی الله عليه وسلم يې راوړي دي (سنت). په دې اړه الله سبحانه و تعا لی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِ نَ الآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ إِلاَّ قَلِيلٌ﴾**

[التوبه:۳۸]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! پر تاسو څه شوي، کله چې در ته د الله په لاره کې د وتلو وويل شول؛ نو تاسو پر ځمکه ببغمه کېناستلئ؟ ايا د اخرت په پرتله مو د دنيا ژوند غوره کړی؟ که داسې وي، نو پوه شئ چې په اخرت کې به د دنيو ي ژوندانه دغه ټول وسايل هېڅ ارزښت ونه لري.*

**مرکزي مطبوعاتي دفتر ته د رياض ابن ابراهيم ليکنه**